جناب سپیکر، تاسو تشریف کیږدئ، څه یو منټ Explain کوم جی۔ داسے کار
دے جی چه ټول ممبرانو صاحبانو، دا ټهیک ده چه دا اهم مسئله وه، خو بجلو

پسے تلے دی، سرکونو پسے تلے دی، اورہ چا هم نه دی تېچ کړی- معافی غوارم خه چا ته ریفرنس نه کوم، پکار وو چه دا کال اتېنشن ستاسو نن د ټولو هم په دے باندے وے- نو هغه هم شته نه او په پوائنټ آف آرډر باندے، خه نه غوارم چه په پوائنټ آف آرډرخما سره څوک دا خبرے اوکړی- دا یوه ډیره ضروری خبره ده ----------

جناب نجم الدین خان، سر! مونږه ----------

جناب سپیکر، یو منټ جی کینے، تشریف کیږدے- که ډیره ضروری خبره وی- د پوائنټ آف آرډر Definition تاسو اوګوری- د 225 لاندے چه څه Definition دے، د هغے لاندے به ختی- تاسو د دے د پاره ایډجرنمنټ موشن راوړئ، بل څه راوړئ، بل څه راوړئ- دوه سوه څیزونه دی، هغه تاسو نه کوئ او په نورو مسئلو باندے راشئ او بیا اورہ، نو پکار وو، دا ستاسو Responsibility وه چه اهمه مسئله دا وه، چه پرون ستاسو اتلس زره، هم په اورو باندے دلته ما ته پراته وے چه ما په هغے کښ تاسو ته اورو والا مسئله مخکښے کړے وے- نو اوس مهربانی اوکړئ چه نن چا داخل کړل نو صبا به راځی- اوس هم ما ته یو چټ راغے په دے وخت کښ چه پوائنټ آف آرډر باندے ------ (شور)

جناب سپیکر، چه خه دا خپله خبره ختم کړم، بیا تاسو خپله خبره اوکړئ، مهربانی به وی- اوس هم ما ته یو چټ راغے چه اوس په دے وخت کښ په کال اتېنشن دغه کوو، نو دا سرسری یو شے دے که دا مونږ سره یوه ګهنټه مخکښے راغلے وے نو Why I should go extra ordinarily په یو Different route باندے خه په ورمبے ورخ روان شم- نو مهربانی اوکړئ

جی ستاسو که څومره دغه وی، که تاسو پخپله غواړئی نو تاسو بالکل، که منسټر صاحب غواړی چه د هغے دغه درکوی نو بیا تاسو خپل ایډجرنمنټ موشن یا څه خپل، ولے چه د جمعے ورځ ده، ټائم ته هم اوګورئی، نو په دے باندے تاسو لږ غور اوکړئی۔

حاجی محمد عدیل (ډپټی سپیکر)، جناب سپیکر صاحب! پوائنٹ آف آرڈر۔

حاجی محمد یوسف خان، پرون ما راوړے دے په اوړو باندے، پرون م داخل کړے دے ستاسو سیکرټریټ کښ------

جناب نجم الدین خان، سر ما تحریک التوا پیش کړے وه۔

حاجی محمد یوسف خان، نوټس اوړو باندے هم دے او ګیس باندے هم دے، په دواړو باندے دے۔

جناب نجم الدین خان، سر! یوه میاشت اوشوه چه تحریک التواء م پیش کړے وه خو Reject کړے ئے ده او ما له ئے واپس رالیږلے ده چه په دے باندے بحث نه شی کیدے، دا د رولز خلاف ده، نو څما دا درخواست دے جناب۔۔۔

جناب سپیکر، سیکرټریټ کښ تاسو تپوس اوکړے۔

جناب نجم الدین خان ، سر! بیا سیکرټری صاحب اووے چه ټائم ډیر شوے دے جی۔

جناب سپیکر، دا ولے نا منظور شوے دے، په څه وجه باندے؟ دا تپوس خو اوکړئی۔

جناب نجم الدین خان، نو سر، تحریک التواء خو مونږ پیش کړے وه۔ ما وے که هغه منظوره شی نو په هغے به بحث شروع شی۔

ملک جہانزیب: جناب سپیکر صاحب! خه یو عرض کوم، پوائنټ آف آرډر
جی-دغه شان چه ما مجوموره موشنے ورکړے دی او تحاریک م پیش کړی دی،
هغه ټول ما ته واپس راغلی دی یا خو مونږ نه پوهیږو، واقعی چه نوے یو،
خو خما په خیال د هغے یو جواب دا دے چه په کوټکی، ما یوه علاقه لیکلی ده،
چه هلته کښ د محکلو اوبو ډیر ضرورت دے، پرابلم دے خلقو ته، د هغے
جواب ما له دا راکړے شو چه د هغه کلی نوم اوښایه او کلے ما لیکلے دے
کوټکے، نو که جی هسے خان خمونږ نه خلاصوی----------

جناب سپیکر، که داسے څه پرابلم وی تاسو ته چه کله جواب ملاؤ شی نو تاسو
راشئ ما سره، هلته یے ما سره ډسکس کړے جی، ما ته چیمبر ته راشئ چه څه
داسے خبره وی تاسو بیا ما ته راشئ او هلته کښ تاسو ما سره خبره کولے
شئ-

ملک جہانزیب، ما چه مجوموره تحاریک پیش کړی دی، ما ته ټول واپس شوی دی
نو مونږه خکه په دے پوائنټ آف آرډر باندے ډیرے خبرے کول غواړو- بله دا
چه غفور خان جدون صاحب کومه خبره اوکړه، په دیر کښ جی یوه توله
هم د سړی په سر اوره نه ملاویږی، دوی خو لا خمونږ نه ډیر ښه دی چه دوه
نیمے تولے ورته ملاویږی-

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی)، On behalf of the Chief Minister دا
خمونږ بابک صاحب چه کومه خبره پوائنټ آوټ کړے ده جی، دے باره کښ
مونږ آئی-جی صاحب نه تپوس اوکړو، هغوی راته ډیټیل رالیږلے دے- دا
دوه کسان وو، دوی نه چا گاډے په کرایے واغستو، مخکښے دا دواړه قتل
کړے شول، هغه گاډے بیا په دویمه ورځ کچهرو کښ ولاړ وو- هغه اونیولے

شو او په دے کښې داسے څه د غلا خبره نه وه جی، دوی کښې زر روپئی هم د یو سړی د جیب نه را اُوتی دی، یو ریسټ واچ هم د یو سړی لاسو کښې وو، هغه مونږ ته ملاؤ شوے دی، درے نیم سوه روپئی د بل سړی جیب کښې وے او ورسره د هغوی ریسټ واچ هم وو، نو دا د غلا کیس نه وو او دا نه پوهیږم، موټر هم هغوی پریښودے دے، دا نه چه موټر یے بوتلے دے چه سړے دا اووائی چه دا یے موټر د پاره کړے به وی، موټر هم ملاؤ شو، لاشونه ملاو شول- هغه لاشونه په څوارلسم فروریٔ باندے د علاقے خلقو ته حواله شول او هغوی نه مونږ تپوس اوکړو، پولیس تپوس ترے اوکړو چه په چا باندے دعوه داری ده نو هغوی دعوه داری هم هغوی نه ده کړے او د دے باوجود حکومت کوشش کوی او ربنتیا خبره دا ده چه Law and order situation دومره Present خمونږه صوبه کښې نه دے او Law and order situation چه دے، ربنتیا خبره نه ده- څنګه چه خما رور پوائنټ آوټ کړه چه کوم Kidnappings کیږی او دا حالات دی نو د دے باوجود دے خانے کښې لږه خبره دا عرض کوم چه As compared to other Provinces خمونږه د معذوریٔ حالاتو په وجه باندے ولے چه شپږ میله کښې دلته باړه او آزاد قبائل دی، پندره لاکھ دلته مونږ سره افغان مهاجر دی، نو دے ټولو ته د دے نشاندهی کولو، د انکوائری کولو او د نیول د پاره مونږ ته پرابلم دے- انشاء الله، څه تسلی ورکوم چه حکومت لګیا دے او کوشش به کوو چه زر تر زره دا خلق ګرفتار کړے شی- کومے پورے چه د معاوضے خبره ده، چه دوی اووئیل، نو ریلیف فنډ کښې داسے څه ګنجائش نشته چه کوم سړے داسے قتل کړے شی، هغه ته معاوضه ملاؤ شی، انشاء الله هغے باندے به هم حکومت غور کوی

چه چرته څه ګنجائش وی نو ضرور بهelp H کوو۔

جناب سپیکر، ملک صاحب، خما خیال دے ستاسو تسلی اوشوه جی۔

ملک جهانزیب، تسلی م اوشوه او مهربانی۔

Mr. Speaker: Mr. Ghani-ur-Rehman Khan to please move his Call Attention Notice.

Mr. Najmuddin Khan: Sir, on behalf of ............

جناب سپیکر، تاسو ته یے څه لیکلی درکړی وو جی؟

جناب نجم الدین خان، او سر، ما ته یے وئیلی وو خکه چه دے سره خمونږ د ضلعے هم تعلق دے --------

جناب سپیکر، اتهارټی درته ملاؤ شوے ده؟ مونږ ته خو ئے نه ده رالیږلے جی۔

جناب نجم الدین خان: Written authority خو څه نشته سر، خو هسے ئے ما ته وئیلے وو۔

جناب سپیکر، دا Lapse شو۔

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! دا خما تحریک التوا چه دے، کاپی خو ما له نه ده راکړے، خو بهرحال څه په هغے خبر یمه او راته یاده ده زبانی لږه لږه۔ په نومبر کښں خمونږه ----------

جناب سپیکر، هسے دا یو عرض کوم جی، دا Triplicate کاپئی وی، تاسو خپلے کاپیانے خان سره ساتئے جی۔ دا ضروری خبره ده۔ د دے کاپیانو رولز کښں داسے څه دغه نشته چه داسے به تاسو ته سپلائی کیږی۔ تاسو چه کوم شاملاوے نو د هغے خپل خان سره کاپی ساتئے۔

حاجی عبدالرحمان خان، جناب، خمونږه خو به دا قاعده وه چه تاسو به راته په میز هغه خپل تحریک التوا، د نمبر پته نه لګی او مونږ تاسو ته بیا خط اولیکو، دا د فوری نوعیت مسئله ده او دا جی اوس ما له راکړے شوه۔ د ګنو نرخ په 11-11-96 یو زر روپے ټن وو۔ جناب سپیکر صاحب، دوه درے میاشتے، نومبر دسمبر او جنورے پورے ایک هزار، چار روپے ټن زمنیدارو ته ورکړے شوے دے۔ په دے مینځ کښ د ملونو والا یو ټرک کښ دوه نیم زره روپے یو زمنیدار له کمے ورکړے چه ګنو باندے چښتنی پریوته۔ جناب سپیکر صاحب، ریکوری د نومبر نه تر آخره پورے، ما ګنی وروړل او ما وے چه په خزانه شوګر مل کښ دا ګنی اوګورئ، او دا خمونږه په دے علاقه کښ یو عجیبه کار دے چه څه مالک یم، ګنے څرڅوم، په تللو کښ م واک نشته او د چینو په کتو کښ م هم واک نشته جی۔ څما د ګنو نه څومره چینی اوځی؟ نه م په ریکوری کښ اختیار شته او نه م په تللو کښ اختیار شته۔ ګنے چه مونږه واستولو نو ګنی کښ ریکوری صحیح وه او دوه دوه ګنے مو د لارو نه، چه نومبر کښ کومه وه هغه صحیح وه، د نومبر په معیاد۔ د هغے نه پس تقریباً ټولو ملونو ته دوه نیم زره ټرکه ګنی سپلائی شوے دی، په دوه نیم زره ټرکه کښ تقریباً یو ټرک یا اوسطاً که مونږه دوه زره واچوو نو پنځوس لکه روپے زمیندارو له کمے ورکړے شوے۔ جناب سپیکر صاحب، د اول نه تر آخره پورے څه دا په دعوئ وانم چه خزانه شوګر مل دا یو داسے مل وو چه دا مونږه نورو ملونو، پریمیر شوګر مل، تحت بهائی شوګر مل او چارسده شوګر مل د پاره جوړ کړے وو چه هغوی به د زمیندارو نه غلا کوله او ریکوری به ئے صحیح نه ښودله، خپل حصه دار به ئے هم وهل او د آتے په

خانے به نے سات ښودله او د سات په خانے به نے چه ښودله او با خزانه شوګر مل چه راغے نو په ټول پاکستان کښ، څه په دعوے سره وایم چه دوئم نمبر ریکوری څمونږه د دے Value وه او دا تر ننه پورے مونږه له د څپلو ګنو صحیح معاوضه نه ده راکړے شوے۔ خو دا د فوری نوعیت مسئله ده چه په نومبر کښ کومه ریکوری وه نو په جنورے او په فرورے کښ هم هغه ریکوری وه۔ څمونږه دا پیسے د یو زمیندار نه، چه یو ټرک به زر روپے ټن وو او لس ټنه به اوختو نو دس هزار به نے کولے؛ نو دوی دوه سوه روپے ټن کمے اوکړو نو هغه د دس هزار ټرک چه دے، هغے به آٹھ هزار روپے کولے نو زه وایمه چه تاسو د دے تحقیقات اوکړنی او دے زمیندارو له هغه څپلے پیسے ورکړے۔ که هر کله ملونه دا وانی چه مونږه تاوان کړے دے نو زه دا نه منم۔ خدائے پاک دے میر افضل خان اوبښی، هم په دے باندے ورسره خما جهګړه راغلے وه چه میر افضل خانه، مونږه زمیندار خان له برستن نه شُو نوی کولے او تاسو په سری لنکا کښ مل شروع کړو، په ډیره اسماعیل خان کښ دے هم شروع کړو، تاسو زمیندار ینی خو د زمیندارنی په پیسو مو دا نه دے شروع کړے، د زمیندارو د ګنو، د ملونو په پیسو تاسو شروع کړے دے، نو لهٰذا دا زیاتے چه کوم شوے دے، نو ستاسو په وساطت څه حکومت وقت ته وایم چه زمیندار ډیره یوه غریبه طبقه ده، یو مظلومه طبقه ده، په دے ملک کښ د زمیندارو نه مظلومه طبقه، دویم نمبر مزدوران دی، اول زمیندار دی، د دوی نه لویه مظلومه طبقه هډو بله نشته۔ د دوی په حالاتو باندے رحم اوکړنی او دا کومے پیسے چه مو وراندے ورکولے، چه کوم ټرکونه تلی دی هغه پیسے هغوی له بیا ورکړنی۔ دا خما دغه وو۔

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب ! عبدالرحمان خان چه کومه خبره اوکړه، هغې سره خمونږه اتفاق دے۔ خمونږه د بنوں شوګر مل دے چه هلته خمونږ Agriculture Land دے او زیاته خمونږه د خلقو هغه څه خوارې زارې په دے باندے وه، نو هغه خمونږ مل پروس کال هم بند شوے دے، هم داسے دا خلق مجبور دی او د بنوں نه ډی آئی خان ته خپل ګنی لیګی او خمونږه خدشه ده چه که دا مل دے کال هم بند شی بیا به خمونږ د بنوں خلق ګنے هسے هم ختم شوے دے نو چه دے ته خصوصی توجه ورکړے شی چه که دا راروان وخت دے، نو په دے کښې د مل دوباره چالو شی او که څه مشکلات وی، هغه مزدوران هم داسے دی، هغوی ته هم تنخواه نه ملاویږی نو چه د دے څه حل راوخی۔

جناب سپیکر، جناب وزیر خوراک صاحب۔

وزیر خوراک و زراعت و بلدیات، جناب سپیکر صاحب! معزز ممبر عبدالرحمان خان او اکرم خان چه دا کومه د ګنی د قمیت دا مسئله د تحریک التواء په شکل کښې وړاندے کړے ده، ډیپارټمنټ ما له جواب راکړے دے، خه د عبدالرحمان خان د ګنی او د شوګر مل په مسئلے کښې د تجربے په رڼړا کښې دا خبره کوم چه دا یو مسئله ده خمونږه صوبے د پاره او لکه څنګه چه اکرم خان اووے چه خمونږه د بنوں شوګر مل، د نورو ) کوم مل چه دے، د هغے ذکر کوی چه په هغے کښې هم دا پرابلم دے او خزانه شوګر مل کښې هم دا مسئله پیښه ده، مونږه پرون هم عبدالرحمان خان سره، چیف منسټر صاحب سره خبره کړے ده۔ دا مسئله چه کومه ده، دے کښې خه په دے وخت کښې، چونکه مونږه خبره پیتوو نه، خه په دے کښې دومره زیات څه معلومات نه لرم، دا چه کوم

ډیپارټمنټ ما له جواب راکړے دے، په دے باندے ما ته د دے مسئلے د حل کیدو څه امکان نه ښکاری۔ څه دے د پاره د جواب ورکولو نه مخکښے دا تجویز معزز ممبر، عبدالرحمان خان او اکرم خان ته وړاندے کومه چه دوی دے ما سره یو میټنګ ) اوکړی۔ څه خو دے ته هم تیار یم چه صوبائی حکومت خمونږه د دے زمنیدارانو د کوآپریټو په طرز باندے، دا څنګه چه مخکښے ده، مل چلولو د پاره د ګنی قمیت سره سره د دے مل د چلولو ورسره هم فیصلے کولو ته تیار یم۔ څه وایمه دا خبره په دے فورم باندے د دوی دا حق چه کوم دے، څه تسلیم کومه۔ د دے جواب چه کوم دے هغه ورله څه نه ورکومه څکه چه هغه جواب ورکولو سره دا مسئله د حل کیدو امکان نه لری۔ چونکه دا خمونږه د صوبے د مفادو د پاره ضروری ده چه مونږه دا مسئله حل کړو۔ نو څه به دوی ته درخواست اوکړم چه دوی د ما سره کینی، څه به د خپل ډیپارټمنټ هغه ذمه دار خلق هم راوغوارمه، په شریکه به کینو او د دے مسئلے حل به راوباسو۔ زه به ---------

حاجی عبدالرحمان خان، ښه صحیح خبره دے اوکړه۔ اوس خمونږه دوه نیم زره ټرکه تلی دی چه هغه زر روپے ټرک ټن خمونږه به مل اغستو روستو د جنوړے په آخره کښی، فرورے ته نرخ ئے کم کړو، آټه سو روپئی Per ton ئے کړو، دوه سوه روپئی ټن زمیندارله نقصان ورکړے شوے دے، ملونو والو ورکړے دے۔ د فوری ضرورت خبره دا ده چه هغه تقریباً پچاس ساټه لاکه روپئی جوړیږی د زمنیدارو۔ د هر زمنیدار دا خواهش وو چه څه به بچی له دا کوم، زه به اوره اخلم، زه به روټئی اخلم، نو دا مسئله چه ده که په دے خبره کوئی نو څه ټهیک ده، نو زه وزیر صاحب سره خبره کوم، خو

خبره، فوری مسئله دا ده چه خمونږه پنځوس لکه روپئی خمونږه د جیبه تلی دی او ملونو خان سره دغه کړی دی۔

وزیر خوراک و بلدیات، جناب سپیکر صاحب! عبدالرحمان خان چه دا کومه خبره کوی، ما خو مخکښې اووے چه د عبدالرحمان خان په دے مسئله کښې تجربه ډیره زیاته ده او د هغوی نه مونږه فائده اوچتولے شو، خه د دوی دے خبرے سره اختلاف نه کومه، نه د دے مخالفت کومه، نه د دے خه حمایت کومه، خه دا وایمه چه د دے مسئلے تهه ته رسیدل غوارمه او هغه د دوی د صلح او مشورے نه بغیر نشی کیدے۔ نو زه دلته کښې د دے اسمبلئ په فورم باندے غلطه خبره نه کوم۔ دا چه ما له کوم جواب راغے خه اوس ورله ورکومه، جواب کښې دوی چه کوم څیز د پاره دا تحریک التوا اوچته کړے ده، د هغه حصول ناممکن دے، د دغے ممکن کیدو د پاره خه د دوی او د زمنیدارو سپورټ کولو د پاره دا خبره کوم چه دوی د ما سره کینی او په هغه کښې به اکرم خان هم راشی خه به د دوی، مونږ ته د دے صوبے Interst د ټولو نه زیات مقدم دے۔

حاجی عبدالرحمان خان، خه د وزیر صاحب شکریه ادا کومه۔

جناب سپیکر، خما خیال دے عبدالرحمان خان، دا ډیر ښه Suggestion دے۔ تاسو ورسره کینئی ---------

حاجی عبدالرحمان خان، بالکل، بالکل جناب، ----------

جناب سپیکر، تاسو ورسره کینئی ------

حاجی عبدالرحمان خان، خه ئے شکریه ادا کومه، خه به ورشمه او ورسره به مونږه کینو او یو ملګرے خمونږه بل هم ډیر تکړه شته خو هغه ډیر روستو

روستو خان بوخی او ډیر گیله مند هم یو ترسنه، دے ښه زمیندار دے او ښه پوهه دے، دا افتخار مهمند، خو په ده کښې دا ناراستی ده چه دے خبره نه کوی۔

جناب ظاهر شاه خان، جناب سپیکر صاحب! د دے اورو باره کښې مونږه تحریک التواګانے جمع کړی دی نو مهربانی اوکړنی جی، دا نورے دغه دی که دا چرے تاسو مخکښے کړئ او په دے باندے بحث اوکړنی۔ مونږه غلطی کړے ده چه مخکښے all Attention Notice C مو نه دے دغه کړے۔ دا مخکښے کړئی، د اورو دا تحریک التواګانے، چه مونږه په هغے باندے بحث اوکړو۔ مونږ ته ډیر غټ پرابلم دے جی۔

ملک جهانزیب، جناب سپیکر صاحب! خه افسوس کوم چه ما خو ډیر تحریکونه دغه کړی دی خو د دے یوه کاپی ما ته ملاؤ شوه۔ جناب، خمونږه په ضلع دیر کښې عموماً بیا خما په حلقه پی۔ایف -77 کښې خصوصاً د بجلئی متعلق ما مخکښے هم په پوائنټ آف آرډر عرض اوکړو، خمونږه بعضے خایونو کښې د بجلئی ستنے لګیدلی دی خو په هغه باندے تار نشته، چرته چه تار لګیدلے دے نو هلته ټرانسفامر نشته۔ بیا جی بعضے د کنسټرکشن محکمے د نا اهلی په وجه باندے هلته کښې داسے واقعات هم راغلل چه خمونږ پکښې خه کسان هم جی مړه شو، وفات شو لکه تیمرګره کښې خمونږ دوه کسان وفات شو۔ یو کس هغه بله ورځ خما په کلی کښې، قاضی آباد کښې د بجلئی ستنے ته ختلے وو چه بجلی کټ کړی او د هغے سره وفات شو۔ نو خه دا درخواست کوم چه د هغے د هم تحقیقات اوکړے شی او دا کوم کسان چه مړه شوی دی، دا بجلئے والا نه دی۔ د دے معاوضه د ترے واغستے شی او د دوی د غلطے کارکردګئی په وجه مړه شوی دی۔ جناب عالی، د هغے یو مثال خه پیش

کوم، خما په حلقه کښې شالګه یوه ډیره لویه علاقه ده، د نیاز دره سره تعلق لرې، هغې تا جی په 1988 کښې د بجلئی غټے ستنے لګیدلی دی، نیمے لارے پورے تارونه تلے دی او نیمه لارے کښې تارونه نشته او د ورو ستنو خو هلته هډو څه نوم نشته- دغه شان زه دا عرض کوم چه د بجلئی دا کومه مسئله چه خمونږه علاقه کښې ده نو دا خو مونږه سره ډیر ظلم دے او زیاتے دے او که خمونږ د حکومتونو دا پروګرام وی چه یره دیر د هم دغه شان پاتے شی نو بیا لږ وضاحت ما ته اوکړنی- شکریه-

<u>جناب بشیر احمد بلور</u> (وزیر آبپاشی)، جناب سپیکر صاحب! څنګه چه مخکښے ما عرض کړے دے چه واپډا خمونږ کنټرول کښې نه ده او مونږه به ایریا چیف د Monday په ورځ راوغوارو، هلته به دا خبره اوکړو او لکه څنګه چه فرید صاحب اووئیل چه R.E.D او منسټر واپډا سره هم خبره کړے ده- هغه به هم دے هفته کښې راشی نو چه د شنګالا ګوه باره کښې دا کومه خبره کوی، په 1988-89 کښې دے باندے دا اسټیمیټ جوړ شوے وو- لس لکه، اته پنځوس زره، اته سوه پنځویش روپے اسټیمیټ وو جی، او په دے کښې ففټی پرسنټ کار شوے دے- او دا خمونږه جناب محمد شاه هارون باچه په فنډز کښې، هغوی پکښې حصه ورکړے وه، اوس پرابلم دا دے چه د دے حکومت بد قسمتی ده چه مونږه یو کار شروع کړو، یو پراجیکټ شروع کړو، په هغه کښې پچیس یا پچاس پرسنټ پیسے ولګوو او بیا لس لس کاله د هغه پراجیکټ څوک تپوس هم نه کوی- هم دغه شان د دے هم دا حال دے چه د 1988 نه دا کار شروع وو او نن تقریباً نهه کاله اوشو او هغه نیم کار شوے دے او د باقی نیم کار د پاره پیسے نشته- هغوی وایی چه مونږه حکومت ته بار بار دا لیکلی دی چه مونږ ته پیسے راکړئی چه مونږ دا کار پورا کړو- نو دا ایریا چیف به راشی -

ارد پاره پیسے نشته۔ هغوی وایی چه مونږه حکومت ته بار بار دا لیکلی دی چه مونږ ته پیسے راکړئی چه مونږ دا کار پورا کړو۔ نو دا ایریا چیف به راشی او هغوی سره به هم خبره اوکړو، څنګه چه منسټر صاحب راشیNext Week کښ، هغوی سره به هم خبره اوکړو نو انشاء الله کوشش به کوو چه د دے واپډا کوم پرابلم دی چه دا دے زر تر زره حل کړے شی۔ مهربانی جی۔

ملک جهانزیب: جناب عالی، څه خو د خپل معزز منسټر صاحب د دے خبرونه بالکل مطمئن نه یمه، ځکه چه نه پچاس پرسنټ کارشوے دے بلکه د نشت برابر کاردے جی۔ پچاس پرسنټ کارکه شوے هم دے نو هغه هم د نشت برابر دے، تارنشته جی، ستن نشته، بل څه نشته۔ نو کوم کارونه چه هلته کښ دغه شان په التواء کښ پراته دی د دے څه مکمل بندوبست پکار دے۔ که د دے څه بندوبست اونشی نو د حکومت چه کومه پیسه هلته لګولے ده، هغه به بالکل ضائع شی۔ کوم تارونه چه لګیدلی دی هغه ماشومانو راکښ کړل او خرڅ ئے کړل او پونړے مونړے ئے په دے واغستے۔ هغه ستنے هم اوغورزیدے۔ دا هر څوک چه کوی دا خپل حکومت ته نقصان ورکول دی۔ په دے لړ کښ که څه دا یو عرض اوکړمه چه ما په دے ضمنی الیکشنو باندے هم بحث کړے دے، تیرشوی حکومت کښ چه کوم ضمنی الیکشنے شوی دی او په هغه الیکشنو کښ حکومت ته کوم نقصان رسیدلے دے، خاصکر د بجلی په مد کښ چه ستنے هلته کښ اوس پرتے دی خمونږه ډیر کښ او کوم ځائے کښ چه الیکشنے شوے دی، یوازے په ډیر کښ نه جی، کوم ځائے چه دوی الیکشنے کړے دی نو ډیر وافر مقدارکښ جی ستنے پرتے دی، ټرانسفارمرے پرتے دی

او د هغه خلقو سره پرتے دی چه هغوی د جماعت سره تعلق دے نو مهربانی اوکړئی، هغه خلقو ته هم خیر دے اولګونی، هغه هم خمونږه رونړه دی او که نه دغه شان پرتے وی نو هغه را واخلئی او کوم کارونه چه خمونږه Incomplete دی دا پرے جی Complete کړئی ځکه چه مونږه وایو چه خزانه کښ پیسے نشته، محکمه راته وائی مونږ سره میټیریل نشته نو کوم میټیریل چه په دے غرونو کښ پروت دے، په دے کندو کښ پروت دے، دغه مهربانی اوکړئی دا راغونډ کړے او دغه میټیریل خو دے خلقو ته اولګوے کنه۔

جناب سلیم سیف اللہ خان، جناب سپیکر صاحب! څه دا عرض لرمه جی چه دا لکه ممبر صاحب اوفرمائیل چه دے ځائے کښ تاسو چیف انجینئر راوغوارئی نو هغه نه خو دا مسئلے نه حل کیږی ځکه چه مونږه څو میاشتو نه وفاقی محکمو سره خبره اوکړه، هائی ویز ته اوګورئی، نیشنل هائی ویز یا سوئی ګیس ته اوګورئی، هر ځائے کښ کارونه په دے صوبه کښ بند شول، صرف دا حکومت ته لیدل پکار دی چه آیا دا کارونه صرف په صوبه سرحد کښ بند شول یا ټول پاکستان کښ بند شول؟ څومره پورے خما خیال دے، مونږه هم ګرځو، اخبارونه هم ګورو، په نورو صوبو کښ خو کار لګیادے، سوئی ګیس پائپ هم لګیادے، بجلئی کارونه هم لګیادی، موټر ویز هم جوړیږی، هائی ویز هم جوړیږی، صرف راشی نو وائیی چه صوبه سرحد د پاره فنډز ختم دے نو آیا دا فنډز صرف مونږ د پاره ختم دی یا پوره پاکستان د پاره ختم دی؟ په دے کښ لږ حکومت ته فکر پکار دے۔

جناب نجم الدین خان، جناب، خما دا رور، جهانزیب خان که په اپوزیشن کښ

ناست وے نو ډیر مزه به نے کوله، ځکه چه په مخه د ده ډیر تحریکونه دی۔ خما دا درخواست دے چه دوی کوم د ضمنی انتخاباتو ذکر کوی، نو گورنمنټ یو سکیم هم بغیر د استیمیټ نه یا د اپرووول هیڅ کله هم نه منظوریږ، ستنے یا کار نه ورکوی۔ خما صرف دا درخواست دے جی هلته که ضمنی انتخاباتو کښ په یو ځائے کښ د بجلئی د کار منظوری شوے ده یا روډ شوے دے یا په نیاگدره کښ شوے دے، د شالگا متعلق شوے دے یا په وارےکښ د گریډ سټیشن متعلق خبره ده جی د 988 I نه pproved A دی۔ دا مسئله لکه ځنگه چه منسټر صاحب اوونیل چه ایریا چیف به راشی، مونږ به هم کینو، Grid construction راشی او د دے مسئلے د حل د پاره به خبرے اوکړو، خما دا خیال دے، جهانزیب خان په مخه د ضمنی انتخاباتو ذکر کوی، نو که چرته په مردان یا په ایبټ آباد کښ ستنے تقسیم شوے وی نو خیر دے هغه د ورله ورکړی، خما دا خیال دے چه مونږ ته ضرورت نشته ځکه چه د حکومت د پاره اپوزیشن پخپله په هغوی کښ راپیده شوے دے او په هر ټائم کښ بل دغه ته نه ځی۔

ملک جهانزیب، جناب عالی، دا خو نمر په گوته پټول دی، خمونږه نجم الدین خان چه کومه خبره کوی خو ځانه دا ستاسو کوم کرتوتونه چه دی دا پټیږی نه، دا ټولے دنیا ته معلوم دی، د ټول پاکستان عوام ته معلوم دی او ستاسو د دغه کرتوتونو جواب تاسو ته د پاکستان غیور عوام په الیکشن کښ هم درکړے دے۔ تاسو په کوم الیکشن کښ ستنے په ټرکونو کښ نه دی اچولے او اوړے مو نه دی او گرځولے مو نه دی دا خو دنیا ته معلومه ده۔ اوس جناب سپیکر، خه بنودلے شم چه په Next حکومت کښ چه په کوم ځائے کښ ضمنی

الیکشنے شوی دی خه درته دا په ښه دغه سره دا خبره کومه چه هلته اوس هم د بجلئی ستنے پرتے دی، ټرانسفارمرے پرتے دی، د بجلے تارونه پراته دی او د دے خلقو سره اوس هم ستو ر دی جی۔ (شور)

حاجی بہادر خان (دیر)، دا په میدان کښې هم پرتے دی، دا په براول کښې هم پرتے دی-----۔

جناب سپیکر، بهادر خان، چه هغوی خبره ختمه کړی نو بیا تاسو پاسنی کنه۔ دا مهربانی کوی جی چه یو کس خبره ختمه کړی نو بیا تاسو پاسئی۔

ملک جہانزیب، بهادر خانه، خما خبره ختمه نه ده۔ جناب عالی! ما خو دا خبره کول نه غوښتل خو خه دے خپل رور، نجم الدین خان چونکه مجبور کړم نو اوس جناب سپیکر، خما دا خواهش دے او خه دا درخواست کوم، خه پورا وضاحت کول غوارم، ما له اجازت راکړئی جی۔ جناب عالی، په پی ایف 73 کښې چه د نجم الدین خان حلقه ده او دے د هغے حلقے نه په ضمنی الیکشن کښې چه طارق الله کله عدالت نا اهله اوګرخولو او په هغه ځائے کښې ضمنی الیکشن کیدو نو دغه الیکشن صرف او صرف د پیسو او د ستنو، د بجلیانو او د ټیلیفونونو او د ایکسچینجونو په طاقت باندے د دوی پارټئی ګټلے وو او نجم الدین خان ګټلے چه دے ایوان ته راغلے دے۔ د هغے دا زنده ثبوت دے چه نن د ده په هغه حلقه نیابت کښې اوس هم ستنے پرتے دی، ما سره څوک خی چه خه نے ورته اوښایمه۔ اوس هم د ده په هغه حلقه کښې باقاعده د بجلئی ټرانسفارمرے پرتے دی اوس خه دا مناسب نه ګنړم چه دا چا سره پرتے دی یا د هغه خلقو نومونه هم په دے معزز ایوان کښې پیش کړم، دا خه مناسب نه ګنړم خو چونکه جی دا شوے ده او دا ډیره ښکاره خبره ده نو که دا خما دا رور نجم

الدين خان پښتنی نو دا خو د مردان ---------

جناب سپیکر، دا ډائریکټ یو بل ته دغه مه کوئی جی۔

حاجی بهادر خان، څه دا یو عرض کومه، په دے کښې خما دا عرض دے جی چه د دے د پاره تاسو یو کمیټی مقرر کړنی۔

وزیر بلدیات، جناب سپیکر صاحب! دا کومے مسئلے باندے چه بحث روان دے، دے کښې ما دا ضرورت ځکه محسوس کړو چه څه پکښې د حکومت طرف نه خبره اوکړمه۔ سلیم سیف الله صاحب چه د اپوزیشن د طرف نه کومه خبره اوکړه چه مونږ د فیډرل ډیپارټمنټ، محکمو خبره کوو نو دلته کښې د هر محکمے، که سوئی گیس دے او که واپډا ده، هغے کښې دا خبره اوشی چه فنډ ختم دے، په حقیقت کښې دلته اوس نن دا کومے مسئلے باندے اختلاف یا اختلاف رائے ښکاره کیږی، د دے ټولے خبرے شاته چه لاړ شئ نو د تیر حکومت، د پیپلز پارټی او د جونیجو مسلم لیږ ) شریک حکومت هغه غلطے پالیسی چه د هغے په وجه هغوی د دے ټول ملک سسټم تباه کړے دے۔ څه تاسو ته لږ تفصیل بیان کول غواړمه چه دا د کوم ضمنی الیکشن خبرے کیږی چه د پیپلز پارټی او د سلیم سیف الله صاحب په شریک حکومت کښې په دے صوبے کښې کوم ضمنی الیکشن شوے دے، په هغه کښې د ترقیاتی کارونو په نوم باندے چه د هغه وخت حکومت په کومے طریقے سره Interference کړے دے او کومے طریقے سره ئے هغه خپله حکومتی مشینری او مرکزی محکمے استعمال کړے دی، د هغے په وجه باندے نن چه څمونږه د ملک کومه بد حالی ده، د هغے بنیادی وجه دا ده۔ موجوده حکومت چه کله نه برسر اقتدار راغلے دے نو د دے په موجودگی کښې په دے صوبے کښې الیکشن شوے دی او

د دے نه مخکښې د پیپلز پارټۍ په وخت کښې هم ضمنی الیکشن شوے وو، خه د اپوزیشن د معزز ممبرانو صاحبانو احترام کومه او دا ورته د دے اسمبلۍ په فلور باندے چیلنج کومه چه دوی دے مونږ ته اوښئی چه اوس په ایبټ آباد، مردان او پیښور کښې کوم ضمنی الیکشن شوے دے، په هغے کښې دے موجوده حکومت د رولز، ریګولیشنز نه علاوه یوه کهمبه یا یو ټرانسفارمر هم چا له ورکړے دے؟ د تیر حکومت د فیډرل ډیپارټمنټ، سوئی ګیس، ګیس اینډ آئل خبره دوی اوکړه چه د دوی روړ ئې منسټر وو او د فیډرل ډیپارټمنټ، واپډا چه د دے صوبے سابقه چیف منسټر صاحب څنګه په خپل ضمنی انتخاباتو کښې په کومه طریقه استعمال کړے ده، هلته چه کله الیکشن به اُوشو نو په هغه کښې د پیپلز پارټۍ امیدوار شکست اوخوړو او بیا به ئې ترے هغه کهمبے اوړلے نو هغه وخت کښې به خلق راووتل او هغه کهمبے به ئې ایسارے کړے۔ دا د دے صوبے د خلقو په نظر کښې ده او په معلوماتو کښې ده۔ خه تاسو ته د دے اسمبلۍ په فلور باندے تسلئی سره او په یقین سره وایمه چه نن هم د آفتاب خان شیرپاؤ په حلقه کښې د اتیاؤ نه زیاتے ټرانسفارمرے پرتے دی او مونږه دا مسئله هم د واپډے سره اوچته کړے ده او خه تاسو ته دا خبره کوم چه دا هغه غلطه پالیسی وے چه د بائی الیکشن د ګټلو د پاره او په غلطه طریقے سره ګټلو د پاره د دیر بالا یو سب ډویژن د پاره هغوی د ضلعے اعلان اوکړو یعنی د دے خبرے سره د حکومتونو دا کار وو چه د خلقو د مفادو د پاره، د خلقو د سهولت د پاره هغه د داسے منصوبے یا داسے اقدامات اوکړی چه د هغے نه خلقو ته ریلیف ملاؤ شی۔ شانګله پار ضلع چه کومه ده، څنګه په کومے طریقے سره د بائی الیکشن په End کښې د الیکشن نه یو ورځ وړاندے د

هغے دا اعلان اوشو او یو طرف ته خو خلق د محکلو اوبه غواړی خو اوبه نشته، روډ نشته، بجلی نشته او بل طرف ته حکومت ورته اووے چه خه الیکشن گټمه، خه درته ضلع جوړومه یعنی Priority د یو حکومت وی، اولیت وی د مسئلو چه دے تیر شوی حکومت د عوامو د مفادو د پاره، چه مونږه کله تلو، د مسلم لیګ ) او د عوامی نیشنل پارټئ حکومت چه کله په کومے طریقے سره رخصت کړے شو، هغه وخت کښں د دے صوبے اقتصادی حالت څه وو؟ مونږ دوی ته خزانے کښں څه پریښیو - نن درے کاله پس چه مونږ ددوی کوم خزانه پریښے ده دا په کومه طریقو باندے دا خه معزز ممبر ته ستاسو په وساطت سره هغه خلق چه د هغے ذمه وار دے او نن راپسے مونږ نه دا پښتنه کړی - خه ترے پښتنه کول غواړمه ستاسو په ذریعے سره چه دا موټر وے چه دا لاهور نه نواز شریف راروانه کړله او بیا چه نواز شریف دا موټروے راروانه کړه او دا منظوره شوه دا لنډی کوتل پورے او دا د نواز شریف په دورکښں چه دا باړیاں نه تر دے کاغان پورے Dual carriage سړک دا هغوی په وخت کښں سټارټ شو او دا د درگئی نه تر کالام پورے هغه موټر وے دا Dual carriage چه کوم دے دا ده هغوی په وخت کښں منظور شوو او چه حکومت بدل شوو هغه وخت پیپلز پارټی حکومت دغه منصوبے ډرافټ کړے نو خه ستا سو په وساطت سره سلیم سیف الله صاحب نه ،خما مشر دے خه ترے پښتنه کوم چه تا پدے احتجاج اوکړو تاسو پدے بیان ورکړو ستاسو ددے صوبے چیف منسټر صاحب چرته دا خبره اوکړله چه دا خمونږه خپل حکومت دے پیپلز پارټی بینظیر مرکزی حکومت نه دا تاسو مطالبه اوکړه چه دا موټر وے چه تاسو دلاهور نه اسلام آباد پورے جوړوے د پیښور او ددے

صوبے موټروے ولے ډرافټ کوے۔ خه وایمه چه دا اعزاز چه کوم دے دا میاں نوازشریف ته حاصل دے چه هغوی ددے صوبے د مفاداتو دپاره چه کوم اقدامات کړی دی هغوی په وجه خمونږه هغه Dificit بجټ چه کوم دے هغه خمونږ سر پلس بجټ شوو۔ دا د 1973ء آئین کښ ددے گارنټی وه چه ددے صوبے د بجلی رائلټی چه کومه دا هغه په دے صوبے ته ورکړے۔ نو په دوی کښے دومره همت پکار دے خما دا خبره ووری۔

(قطع کلامی)

<u>جناب سلیم سیف اللہ خان</u>:۔ جناب سپیکر ! پوائنټ آف آرډر۔ په دے باندے به مونږ ه هم خپل اظهار خیال بیا کول غواړو نو که منسټر صاحب خبرے ډیرے اوکړے اوس epeatition R کښ روان دے۔ددے نه بعد مونږ به هم Personal explenation I would also like .

<u>وزیر بلدیات</u>:۔ esY بالکل جی دا داسے مسئلے دی چه -----

<u>جناب سلیم سیف اللہ خان</u>:۔ ما نیم منټ اوونیل هغه وخت خو د اوونیل چه نیم منټ خبره مه کوه اوس یو گهنټه تقریر نے اوکړو۔

*وزیر بلدیات*:۔ چونکه تا داسے مسئله اوچته کړه چه خه د صوبے خلق او دا معززممبران چه دلته نوے راغلے دی چه دا په دے خبر کړمه چه تاسو سره اختیار وو دا چه نن ما نه کوم سوال پښتنه کوے څان نه پښتنه اوکړه کنه۔ دا فیډرل ډیپارټمنټ تاسو سره اوو۔ ددے فیډرل ډیپارټمنټ ستا رورددے مشر وو، ددے فیډرل ډیپارټمنټ د واپډے اختیار تاسو سره وو۔ -خه دا پښتنه کومه چه دا د واپډے رائلټی چه کومه ددے صوبے په آئین کښ مونږ ته تحفظ راکړے شوے وودا د نوازشریف دوخت نه پس یا د نوازشریف دوخت نه

مخکښې ولے نه دے ورکړے شوے ـ بیا دا چه دے په یو سو خاصو ضلعو کښې په هغه بانی الیکشنو کښې په دیر کښې په ایبټ آباد کښې په دے چارسدے کښې په خاص د آفتاب خان شیرپاؤ په حلقے کښې دا دومره د کروړونو روپے بجټ دا واپډے محنګه استعمال شوے دے ـ ددے جواب خو قوم غواړی د تاسو نه مونږ خو دغه وخت کښې په دے اسمبلی کښے نه تلخی پیدا کوو ـ مونږه په دے اسمبلی مونږه هغه ټولی خبرے روانے دی خه ستاسو په ذریعے سره د خپلے صوبے ټول خلق او ممبران او دحکومت دا اعاده کړل غواړمه چه مونږه هغه غلط کارونه چه کوم دی د هغے تحقیقات دهغے پښتنے کولے نه قلار نه یو مونږ به انشاء الله هغه خلق کیفر کردار ته رسو او هغه خلق به دے خلقو ته مخامخ کوو او دا به ثابتوو (تالیاں) انصاف نه ډک احتساب چه کوم دے ددے ضرورت دے ـ خه ددے ټولو ممبرانو ته چه کوم دحکومتی ممبران چه نن پاسی دا خبره کنے خمونږ ددے صوبے دا اسمبلی چه کوم حکومت دلته کښې ناست دے دا د ډیموکریټک اود دےجمهوری هغه سټرکچر چه کوم دے دهغے احترام مونږ کوو ـ مونږ خپل ممبران نن چه پاسی خبره کنے ـخه د اپوزیشن چونکه کمی ده او د اپوزیشن نه بغیر دا اسمبلی چلیدے نه شی اپوزیشن نه بغیر حکومت چلیدے نه شی نو خمونږ دا ممبران په دے مجبوره دی که چرته دا خبره هغوی او نه کړی نوددے صوبے هغه مسائل چه هغه د حکومت د نظر نه پټ پاتے شی نو مونږ دا اجازت خپل ممبرانو ته ورکړے دے چه دوی دے پاسی هغه مشکلات ے بیان کړی ـ خه ستاسو په وساطت سره خپل هغو ممبرانو ته دا خبره کوم چه په کوم خانے کښې ټرانسفرمرے پرتے دی غیر قانونی طور سره کوم خانے کښې بجلی کمبے پرتے دی غیر قانونی طور سره ز مونږه دا مسئله

ده چه چیرمین واپډا او دفیډرل منسټر واپډا سره دا مونږ اوچتوو ډیر زر به مونږ ددے خبرے انتظامات کوو اود انصاف مطابق خو چه کوم انصاف دا تیر شوی حکومت او خاص طور باندے مرکزی محکمے چه نن نے مونږ نه پښتنه کوی چه دے صوبے سره نے کړے دے د هغے جواب چه کوم دے د هغے مونږه جواب نه غواړو د هغے به مونږ پوښتنه کوو۔ (تالیاں)

ملک جہانزیب خان، جناب سپیکر ------

جناب سلیم سیف اللہ خان، میں تو پہلے جب آدھا منٹ مانگ رہا تھا تو فرید خان صاحب نے ----

جناب سپیکر، تاسو یو منټ صبر اوکړئی جی، هغوی مخکښے پاسیدلے وو په Personal explanation باندے۔

جناب سلیم سیف اللہ خان، میں زیادہ وقت نہیں لوں گا۔ جناب والا، یہ ایک روایت بن گئی ہے کہ جو بھی حکومت آتی ہے، وہ کہتی ہے کہ پچھلی حکومت نے خزانہ خالی کر دیا ہے، ہم کیا کریں؟ ایک زمانے میں تو یہ بھی بہانہ تھا کہ جی 8th amendment ہے۔ چلیں شکر ہے کہ وہ مسئلہ تو حل ہوا، کم از کم یہ بہانہ تو نہ رہا کہ جی ہمارے پاس تو وہ اختیارات نہیں ہیں۔ میں اپنے فاضل ممبر کو معین قریشی صاحب کے 93 کے اس Statement کا حوالہ دینا چاہتا ہوں جس میں انہوں نے اپنی تقریر میں یہ کہا تھا کہ پچھلی حکومت نے اس ملک، پاکستان کو دیوالیہ کر دیا۔ اگر ان کا حافظہ کمزور ہے تو وہ Statement میں ان کو فراہم کر سکتا ہوں۔ ہر حکومت جو آتی ہے، وہ یہی کہتی ہے کہ جی پچھلی حکومت نے بربادی کر دی ہے اور اب تو پچھلی حکومت نے گندم بھی ختم کر دی ہے، پچھلی حکومت نے آٹا بھی ختم کر دیا ہے -------

وزیر بلدیات، جناب سپیکر صاحب! خه یو عرض کول غواړم۔ خه په پوائنټ

آف آرډر باندے خبره کومه۔ خه دا وایمه چه ما خبره کړے ده ------

(شور)

جناب سلیم سیف اللہ خان، جناب سپیکر! میں یہ بھی عرض کرونگا کہ مجھے فخر ہے کہ انور سیف اللہ خان میرے بھائی ہیں' میں ان سے کہتا ہوں کہ جا کر ریکارڈ دیکھیں کہ انہوں نے اپنے وقت میں سوئی گیس کا کتنا فنڈ صوبہ سرحد پہ لگایا اور کتنا فنڈ باقی پاکستان پر لگایا۔ یہ ان کے دور میں ڈیویلپمنٹ فنڈ پنجاب اور فرنٹیئر کا برابر کیا گیا' 50% پنجاب پر لگا اور 50% صوبہ سرحد پر لگا۔ ان کے دور میں یہ کوہاٹ اور ملاکنڈ وغیرہ میں گیس کی پائپ لائنیں شروع ہوئیں جو کہ آج بند ہوگئی ہیں۔ (تالیاں)

میں تو جو بات کر رہا ہوں تو ان کے حق کی بات کر رہا ہوں۔ کیا یہ نہیں چاہتے ہیں کہ اس صوبے میں ترقی ہو' کیا یہ نہیں چاہتے ہیں کہ یہاں پر سڑکیں بنیں؟ موٹر وے کی بات کرتے ہیں' ہم سمجھتے ہیں کہ اس وقت سب سے زیادہ ضروری' موٹر وے سے زیادہ' انڈس ہائی وے ہے' چار سو کلومیٹر کا فرق کم ہوتا ہے۔ آپ کا جو موٹر وے ہے' وہ پاکستان کی حکومت فنڈ کر رہی ہے اور آپ کا جو انڈس ہائی وے ہے' وہ جاپان کی حکومت فنڈ کر رہی ہے۔ آپ اس پر کیوں توجہ نہیں دے رہے ہیں؟ کیا ہمیں یہ نہیں چاہئے؟ ذرا معلومات تو حاصل کریں' ایسے ہی اٹھ کہ تقریریں شروع کرنا' یہ تو بڑا آسان ہے۔ جناب' احتساب کیلئے ہم تیار ہیں' ہم کسی سے گھبرانے والے نہیں ہیں۔ ضرور احتساب کیجئے' میرا احتساب کیجئے' میں تیار ہوں ہر قسم کے احتساب کیلئے۔ یہ آپ کس کو دھمکی دے رہے ہیں؟ ہم بھی پختون ہیں۔ یہ نہیں ہے کہ ہم باہر سے آئے ہیں ---------

جناب سپیکر، یو بل ایډرس کومه جی۔

جناب سلیم سیف اللہ خان، ہاں جی' جناب والا' صرف یہ دھمکیاں کہ ہم احتساب اور یہ ــــ تو کیجئے احتساب' آپ کو کس نے منع کیا ہے؟ آپ تو حکومت میں ہیں' آئیے احتساب کیجیے

لیکن میں نے یہ کہا کہ آج آپ کے جو فنڈز ہیں صوبہ سرحد کیلئے، کیوں سوئی گیس کی پائپ لائن پر کام بند ہوچکا ہے، کیوں بجلی کے کام بند ہوچکے ہیں جبکہ اور صوبوں میں ہو رہے ہیں؟ آپ معلومات حاصل کریں اور پنجاب، جہاں پر سرپلس گندم ہے، کے وزیر خوراک تو کراچی میں بیٹھے ہوئے ہیں، نواب شاہ میں گندم پیدا کر رہے ہیں اور ہمارے وزیر خوراک کی یہاں پر بہت مصروفیات ہیں، اسلئے کیونکہ یہاں پر تو آٹے کا بحران ہی نہیں ہے۔ یہ تو ایسے ہی اخبار والے لکھتے ہیں، کوئی بحران نہیں ہے۔ تو جناب والا، ہم بھی یہ چاہتے ہیں کہ یہ صوبہ ترقی کرے، یہ ملک ترقی کرے۔ ہم پہلے بھی یہ عرض کر چکے ہیں کہ حکومت کی ہر اچھے کام میں ہم نے حمایت کی ہے، 58(2)(b) کا جو کام ہوا ہے، ہم نے بھی میاں نواز شریف کو اس پر مبارکباد دی ہے۔ جو اچھے کام ہوں گے، ہم ضرور اس پر مبارکباد دیں گے۔ ہم میں اتنا Moral courage ہے لیکن جہاں پر غلط کام ہوتے ہیں، آپ خود دیکھ رہے ہیں کہ آپ کے اپنے ممبران چیخ رہے ہیں کہ بھئی کام نہیں ہو رہا ہے، کام نہیں ہو رہا ہے، تو ہم آپ کو صرف یہ مشورہ دے رہے ہیں کہ آپ جا کر باقی صوبوں میں بھی تو دیکھیں کہ وہاں پر بھی سارے کام بند ہیں یا وہاں پر ہو رہے ہیں؟ اس پر آپ ذاتیات پر اتر آتے ہیں۔ میری اتنی گزارش ہے کہ ہم میں تھوڑی سی قوت برداشت ہونی چاہئے اور ہماری یہ پالیسی نہیں ہے کہ Just for the sake of criticisim. ہم بھی یہ چاہتے ہیں کہ یہاں بجلی آئے۔ بجلی یہاں اس صوبے کی پیداوار ہے، ہمارے لوگوں کا بھی کچھ حق ہے اور وہ حق ہمیں ملنا چاہئے۔ شکریہ جناب۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>، جناب سپیکر! دا مسئله چه کومه جهانزیب خان وړاندے کړه، خما دا ډیوټی ده، خما دا په فرائضو کښې راځي او مونږ د ملاکنډ ډویژن نه ممبران الحمد لله د سیاسی سوچ نه بالا تر د علاقے د ترقئی سوچ کړے دے او مونږ همیشه دے رونړو تا دا وئیلے دی چه -------------

جناب سپیکر، د جمعے ورخے ته کتل پکار دی۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! خو صرف عرض دا دے چه د هغوی کومه مسئله ده، هغه حل نه شوه۔ خمونږ معزز رور، جناب فرید خان olitical P scoring کوشش اوکړو، د دے خبرے دلته هیڅ ضرورت نه وو۔ اګرچه خه دا خبره منم چه د هغوی د خبرے په سلسله کښ د نجم الدین خان جواب هغوی لږ Provoke کړل او د هغے نه صورتحال څه بل شانتے جوړ شو۔ خو جناب سپیکر، یوازے دا خبره نه ده چه د ضمنی الیکشنو په حواله سره هلته کښ ټرانسفارمرے او ستنے پرتے دی او هغه نه لګی۔ د دے خبرے بهادر خان ګواه دے، د دے خبرے جهانزیب خان ګواه دے چه د جونیجو صاحب د وخت بعض سکیمونه ncomplete I پراته دی۔ د بجلی په وجه سکولونه Incomplete پراته دی، هسپتالونه Incomplete پراته دی۔ د جونیجو صاحب پانچ نکاتی پروګرام تحت چه کوم کارونه دی، هغه روستو نه دی مکمل شوی۔ د پیپلز پارټی د پیپلز پروګرام تحت چه کوم کارونه دی، هغه روستو نه دی مکمل شوی۔ جناب سپیکر، دغه شانتے که د بل حکومت کوم کارونه دی هغه روستو نه دی مکمل شوی۔ مسئله د بهادر خان، مسئله د جهانزیب خان بله د هغوی مسئله ده، دلته کښ په دے Political scoring کوی۔ د دے نه څوک نه دے خبر چه دوی نوکری نشی ورکولے، دوی د ملازمتونو نه خلق اُوباسی، دوی ترقیاتی کار نشی کولے، ترقیاتی کار بندول غواړی او بند دی اودا وخت حالت دا راغلے دے چه نوکری نشی ورکولے، ترقیاتی کار نشی کولے، ترقیات بندولے شی، په خلقو باندے نے اوس رزق بند کړو۔ د دے نه دوی انکار کوی؟ جناب سپیکر ---------- )

(قطع کلامی)

جناب احمد حسن خان، پوائنټ آف آرډر- څه صرف دا عرض کومه، خمونږه مسئله دا ده نن په دے صوبه کښ په سونو پرائمری سکولونه د مختلف حکومتونو Incomplete پراته دی، ستاسو په حلقه کښ به وی- جناب سپیکر، خما یو سوال به راشی تاسو ته- مونږ امداد کول غواړو د دوی سره د اپوزیشن کردار په دے شکل کښ چه مونږ د عوامو د بے چیننی او تکلیف طرف ته د دوی خیال راوګرزو او دوی په هغے باندے غور اوکړی، مونږ ته به هم فائده اوشی او دوی ته به هم فائده اوشی-

ملک جهانزیب، پوائنټ آف آرډر جی------

جناب احمد حسن خان: هلته کښ کومے ستنے پرتے دی --------

ملک جهانزیب، خه جی دا عرض کوم- پوائنټ آف آرډر جی------

جناب احمد حسن خان، په هغے باندے جناب سپیکر، دوی د هغه ضمنی الیکشنو نه خبر نه دی-

جناب سپیکر، یو سیکنډ صبر اوکړئی-

ملک جهانزیب، دا خو جی تاسو د تقریر موقع ورکوئی چه مونږ هم څه اووایو-

جناب احمد حسن خان، تقریر چه څومره فرید خان کړے دے د هغه نه ما ته څلور چنده زیات حق حاصل دے جناب سپیکر، که نه هغه له هم نه دی ورکول پکار؟ کله چه څه د روایاتو او رولز خبره کوم نو هلته بیا دا مسئله راځی جناب والا، خو دا مسئله، د فرید خان د دومره اوږد تقریر کولو نه په آئین، نه په قواعدو او نه په روایاتو کښ څه ګنجائش وو، تاسو مهربانه یئی، همدرد

نیی، د لوے زړه مالک، سمندر دل شخصیت نیی، تاسو ورله اجازت ورکړو که مونږ د پاره هم د هغے همدردے مظاهره کونی کوم چه تاسو د هغه د پاره کړے ده۔ جناب سپیکر صاحب، یوازے د ضمنی الیکشن خبره نه ده، د بهادر خان په حلقه کښ خو ضمنی الیکشن نه دے شوے۔ جناب سپیکر، په چه نومبر باندے حکومت ختم شوے دے او بهادرخان رور دے دلته کښ اووانی، هغے ورځے نه واخله تر ننه پورے چه په کوم لاتن باندے کار روان وو، هغه په هغه ځائے باندے بند پاتے شوے دے۔ لاندے چه کومه بیوروکریسی ده، لاندے چه کوم د محکمے افسران دی، هغوی د دے موقعو نه فائده اخلی۔ دلته بیا مونږه دا جهګړے شروع کړو او مونږ بیا یو بل ته دا وایو چه د هغه حکومت دا کار دے او د دے حکومت دا کار دے۔ نن خمونږه مسئله هلته دا ده چه ستنے ولاړے دی، تار پرے نه راښکلے کیږی۔ دوی دا اووے چه مونږ نے تحقیقات کوو۔ که د قانون نه خلاف څه کارشوی وی، جناب سپیکر، خه به تاسو ته دا درخواست اوکړم او دا په ډیره عاجزئی سره تاسو ته کوم او په دے،د ے دا حکومت عمل اوکړی که ځما په وینا یو افسر غیر قانونی کارکړے دے نو چه څومره خه ذمه وار یم نو دومره ذمه وار هغه افسر هم دے جناب سپیکر د هغه نه هم تپوس کول پکاردی چه ولے دا کار نے کړے دے، هغه ولے دے انجام ته رسیدو او که نه هغه سرکاری افسر پرون ځما تابعدار وو نو ما ورته زنده باد وانیلو، نن د ده تابعدار دے نو دے به ورته زنده باد وائی۔ دا ډیرے خبرے دی او جناب سپیکر د ده چه دوه فته ژبه ده او په هغے باندی یقین لری نو د بل د لس فته ژبے د هم خیال ساتی، هغه هم خبره کولے شی۔ مونږه په دے اسمبلی کښ هر قسم جائز تعاون کولو ته تیار یو او د صوبے د حقوقو خبره او د

صوبے د حقوقو په سلسله کښې دلته اپوزیشن چه خمونږ سره کوم امداد کړے دے، نن خمونږ لیډر آفتاب خان نشته دے د هغه په Behalf په دے صوبے کښې چه د اپوزیشن ملګرو___ حالانکه هغه په هغے پوزیشن کښې نه وو په کوم کښې چه نن مونږ په کمزور ترین پوزیشن کښې یو، دا دے لحاظ سره څنګه محترمه بی بی صیبے اوفرمائیل چه دا خسته حال اپوزیشن دے، خسته حال په عددی شکل کښې خو جناب سپیکر، د عوامو د حقوقو د پاره د آواز پورته کولو په سلسله کښې مونږ مالا مال یو۔ چه څوک خبره کوی، مونږ د جواب ورکولو حق لرو او جواب به ورکوو۔ تهینک یو مسټر سپیکر۔

وزیر بلدیات، جناب سپکر صاحب، چونکه دا خما د خبرے جواب دے------

(شور)

حاجی بهادر خان، خه یوه خبره کوم جی ------ (شور)

Mr. Najmuddin Khan: Personal explanation, Sir..........

(شور)

ملک جهانزیب، خه یوه خبره کوم جی------ (شور)

Mr. Najmuddin Khan: Personal explanation, Sir..........

(شور)

ملک جهانزیب، جناب سپیکر صاحب، یو منټ ------ (شور)

جناب سپیکر، دا یو منټ ---------

ملک جهانزیب، خه معزز ممبر، ملک جهانزیب -------- (شور)

جناب نجم الدین خان، معزز ممبره، کینه کنه۔

ملک جهانزیب، لږ صبر اوکړئی، مونږ له هم لږ وار راکړئی که وروستو ناست

یو خو حق مو شته دے د خبرے -----------

جناب سپیکر، دا ټائم خو ختم شو ستاسو په دے وارونو باندے۔ اوس په Personal explanation باندے هغه پاسی، هغه پاسی----

وزیر بلدیات، جناب سپیکر صاحب، خه ستاسو او د معزز اسمبلئی د ممبرانو زیات وخت نه اخلم، خما په خبره که اپوزیشن ملګری خفه کیږی نه، خه به ورته اووائم چه خما مطلب دا نه وو چه مونږ تاسو خفه کړو۔ ریکارډ درست ساتلو د پاره خه یو دوه خبرے کومه۔ خه به ستاسو ډیر مشکور یم چه تاسو ما له د دے اجازت راکړنی-----------

جناب نجم الدین خان، سر، خه په Personal explanation باندے خبره کومه۔ منسټر صاحب خبره اوکړه خما متعلق جی، د ډیر د ضمنی انتخاباتو خبره ئے اوکړه نو خه دا عرض کوم چه منسټر صاحب هم خبرے اوکړے، جهانزیب خان هم خبرے اوکړے --------------

ملک جهانزیب، چونکه دا تعلق خما سره دے نو ما له هم لږه موقعه راکوئ که نه جی؟ دا دا احمد حسن خان او د فرید طوفان صاحب خبره خو نه ده۔

جناب شعیب خان، پوائنټ آف آرډر---------- (شور)

جناب سپیکر، لږه مهربانی اوکړنی، نمبر په نمبر ----------

ملک جهانزیب، دا خبره خو خما د تحریک نه روانه شوے ده او د هغے وضاحت او نه شو -----

جناب نجم الدین خان، پوائنټ آف آرډر سر۔ سر، دوی لږ کینه ونی جی چه لږه خبره واورنی، خیر دے چه مونږ په اپوزیشن کښې یو، مونږ دا درخواست کوو چه خبرے اوریدو د پاره ----- (شور)

جناب سپیکر، مہربانی اوکړئی جی تاسو لږ تشریف کیدنی--- (شور)

جناب نجم الدین خان، خما عرض دا دے جی چه دا منسټر صاحب څه وئیلی دی د ترینڼ )، جی خما خیال دے ------------

جناب سپیکر، تجویز شوے دے کنه جی، تجویز شوے دے۔

جناب نجم الدین خان، سر، تاسو حاجی عدیل صاحب ته اووئیل د دغے متعلق چه دوی پوهه کړی، خو خما خیال دے جی شپږ میاشتے ترینڼ ) پکار دے۔ دوی له یو طریقه کار جوړ کړئی چه ترینڼ ) اوکړئی۔ سر، څه جی په Personal explanation باندے خبره کوم -----(شور)----- څه درخواست کوم سر، دوی جی د ضمنی انتخاباتو ذکر کوی د دیر متعلق جی، په هغے کښې دا خبره کوی د ضلع متعلق منسټر صاحب اووئیل، د ضمنی انتخاباتو د بجلئی متعلق اووئیل، څه صرف دا درخواست کوم چه دوی کوم خانے وائی، تاسو په خپل لیول باندے د هغے تپوس اوکړئ، دا بالکل دوی چه کومه پروپیګنډه لګولے ده که هغه پروپیګنډه ټهیک وی چه د ضمنی انتخاباتو کومه خبره وه نن بیا څه ایم-پی-اے یم، په دے خانے کښې ناست یم، اوس هم په دے حالاتو کښې، په دے دهاندلے کښې چه کم وخت دهاندلی شوی ده، څه منتخب شوے یم او راغلے یم او په دے اسمبلئی کښې ناست یم----

جناب شعیب خان، جماعت اسلامی ته دُعا کوئی چه دلته ناستی ینی -------

جناب نجم الدین خان، خما عرض دا دے جی چه د ضلعے متعلق ---------

جناب سپیکر، دا جی ستاسو Explanation راغے که تاسو هغه خل هم ګټلے وه نو تاسو اوس بیا او ګټله۔

جناب نجم الدین خان، سر، چه څه خپل وضاحت اوکړم، ما جی خپل

وضاحت ته پرېښودل پکار دي او که نه م پرېږدي او دوی اپوزيشن دغه کول غواړي ------ (شور)

ملک جهانزيب، جناب سپيکر، پوائنټ آف آرډر جي۔

جناب نجم الدين خان، او سر، تاسو نه خمونږ توقعات دي، تاسو نن د انصاف په کرسئ ناست يئ---- (شور)

جناب سپيکر، داسې کار دے جي، گورئ جي تاسو ته يوه خبره اوکړمه جي ----- (شور)---- تاسو مهرباني اوکړئ، گورئ لږ د رولز پابندي کوئ۔ دا ولے-----(شور)----- خو Personal explanation تاسو ورکړو، بس هغه Accept شو----

جناب نجم الدين خان، سر، ما پوره کړے نه دے کنه -سر، خه درخواست کوم، سر، منسټر صاحب نيمه گهنټه تقرير اوکړو ---------

جناب سپيکر، نو منسټر صاحب خو---- (شور)

جناب نجم الدين خان، نو هغه په کوم ليول اوکړو؟ هغه د سوال، جواب ورکړو خه د تحريک جواب ورکوم۔ خه درخواست کوم جي هغه سياسي تقرير اوکړو ---------- (شور)

جناب سپيکر، ما وے جي تاسو مهرباني اوکړئ يو کس ته ما فلور ورکړے دے بل کس مهرباني اوکړئ، تشريف کيدئ --------- (شور)

جناب نجم الدين خان، مونږ پرېږدي نه جي خبرے ته ---- (شور)

جناب سپيکر، تاسو يو منټ کيېنئ جي، فلور ما دے---- (شور)

وزير بلديات، تاسو ما له فلور راکړے دے------- (شور)

جناب سپیکر، تاسو جی اوکړو، هغه خپل Explanation مو اوکړو کنه جی۔
بیا که ټانم وو بیا پاسئی جی، تشریف کیدنی جی -------- (شور)

وزیر بلدیات، جناب سپیکر صاحب، دا مسئله ------ (شور)

جناب نجم الدین خان، خه سر، ستاسو په حکم باندے کینم، خما دا درخواست دے جی ------- (شور)

جناب سپیکر، ډیره مهربانی جی، ډیره مهربانی۔

ملک جهانزیب، نجم الدین خان، که ته خپلے خبرے پټول نه غواړے نو بیا کینه چه خه ستا د خبرو صحیح جواب اوکړم۔ جناب سپیکر ----

(شور)

وزیر بلدیات، جناب سپیکر صاحب، ټهیک شو، ستاسو د حکم مطابق خه دا په ریکارډ راوستل غواړم ریکارډ درست کولو د پاره د حکومت د طرف نه خبره راتله چه خلق، ممبران خبره اوکړی، حکومت خبره نه کوی نو خلق به څنګه خبریګی؟ سلیم صاحب او احمد حسن صاحب ستاسو په Through چه کومے خبرے دے هاؤس ته کیښودے، هغه درست کولو د پاره، د هغوی د غصه کولو د پاره یا د هغوی د خفه کولو د پاره خه دا خبره نه کومه، خه وایمه چه احمد حسن صاحب ټهیک وائی چه مونږ نوکری نه شو ورکولے څکه چه دے خبر دے۔ دے ټهیک وائی چه خمونږه ډیویلپمنټل کارونه او نه شول، دوی پریښی څه دی؟ دا چه نن نوکری نه شو ورکولے دا د چا د لاسه؟ خه دا خبره کومه چه سلیم سیف الله خان صاحب چه کومه خبره اوکړه، انور سیف الله خما هم عزیز دے، دے هم خما عزیز دے، د دوی د ذات سره خما رشته ده، خو د سټیټ د دغه ساتلو د پاره که ما د سیمنټو کارخانه جوړه کړے وے په

کرک کښې نو ما به ورله سوئی گیس راوستے وے۔ دا داسے خبرے دی چه څه دا پوښتنه کومه چه د بے نظیر بی بی په حکومت کښې د دے صوبے د هغه پراجیکټ اربونه روپئی بندے شوے نو هغه وخت کښې دا خلق په حکومت کښې ناست وو، موټر ویز ضروری دے، اندس هائی وے ضروری دے او د درگئی نه تر کالام پورے روډ ضرورے دے، د مری نه تر کاغان پورے روډ ضروری دے، دا پراجیکټ چه کوم وو دا چه پیپلز پارټی هغه وخت کښې فیډرل ډیپارټمنټ، محکمے بدله ولے نو هغه وخت چه دوی په حکومت کښې ناست وو، دوی هغه وخت کښې پوښتنه ولے اونه کړه؟ څه دوی سره دا خبره ـــ مونږ هم ورسره تعاون کړے دے، اوس دا خواست کول غوارمه د اپوزیشن نه چه رونړو ستاسو د مفاداتو او د دے صوبے د خلقو د مفاداتو دا حکومت ذمه داری ده، مونږ به ستاسو احترام کوو، مونږ هم تاسو نه داسے توقع ساتو چه مونږ په اپوزیشن کښې وو، تاسو سره مو ملگرتیا کړے وه، نن به تاسو مونږ سره ملگرتیا کوئی خو د کمزوری اپوزیشن دا مطلب نه دے چه هغه دے راپاسی او غیر ضروری او داسے الزام تراشی د اوکړی چه د هغے څه بنیاد نه وی۔ صرف دومره خبره څه کول غوارمه نن جنرل نوکرئی نشته هغه هم د دوی د حکومت د لاسه نن که په دے صوبے کښې د غنم کوم قحط دے څه دا وایم چه -------------

جناب سپیکر، خما دا خیال دے چه د حکومت هم دا خواهش دے چه که څه آرډیننسیز Lay کړی چه هغه هم په ځائے پاتے شی۔ ټائم ختم شو جی مهربانی اوکړئ Explanation کافی اوشول۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! په سابقه حکومت کښې خپلے کمزورئی

دی۔ بهاری میندیټ نن د دوی د غاړے دے، یو دغه جوړ شوے دے جناب سپیکر، په درے میاشتو کښ یو هم حکومت دومره نه دے ناکامیابه شوے۔ جناب سپیکر، تا ته پته ده ------ (شور)

جناب سپیکر، بس جی احمد حسن خان، دا چیپټر کلوز شو۔ بس ټولو خپل خپل Explanation ورکړو جی----- (قطع کلامی)

ملک جهانزیب، د دے خبرے جی خه دا عرض کومه چه خما د تحریک نه خبره شروع وه او ما ته ټائم نه راکړے کیږی نو ما له بیا دوه منټه ټائم راکړنی جی۔ نو دا خو تاسو---------

جناب سپیکر، بس جی، مهربانی اوکړنی جی، بس اوشو جی ---- (شور)

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی و آبنوشی)، ما پخپله په دے فلور آف دی هاؤس دا خبره اوکړه چه دا منصوبے غلطے طریقے سره دوی سټارټ کړی وے، لس لس کاله اوشو منصوبے پاتی دی او مونږ کوشش کوو چه دا منصوبه جات ختم کړو------- (شور)

ملک جهانزیب، یو خو خما دا درخواست دے جی، ستاسو نوټس کښ خه دا خبره را ولم چه تاسو دا خلق کینولی دی، دا د حروف تهجی په دغه باندے نه دی ناست۔ چه کوم مخه ورخلق دی هغه دے مخکښے کینولی دی، مونږ گورے دومره بے مخه نه یو، خیر دے که د دیر یو، مونږ له وروستو دومره کینول نه وو پکار۔ اوس مونږ له تاسو ټائم هم نه راکوئی۔ افسوس دا دے که خه د بیک ورډ ایریا سره تعلق لرم خو خه د دے عوامو یو ممبر یم، ما ته دا حق حاصل دے چه ما ته د خبرو موقع راکړنی-------- خبره خما په تحریک شروع شوی وه چونکه خه په دے خبره باندی افسوس کومه چه د ټولو نه

وروستو یے دیر واله کینولی یو او دا د حروف تهجی بالکل هغه خیال هم نه دے ساتلے شوے او اوس مونږ ته پتانم هم نه میلاویږی۔

جناب سپیکر، دا یو منټ واورئی جی، لږ رول 7 اولولئی، حروف تهجی چرته نشته۔ څه مهربانی اوکړئی، رومیے خان پوهه وئی نو بیا یوه خبره کوئی۔ رول 7 لږ اولولئی او بیا په هغے عمل کول دی۔ تشریف کیدئی جی مهربانی اوکړئی۔ (شور)

ملک جہانزیب، بیا جی دے وروستو کسانو له نمبر ورکوئی چه حروف تهجی نشته۔ (شور)

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! میں پوائنٹ آف آرڈر پر ہوں جی۔ اس سے قبل کہ یہ فنانس بل پیش کیا جائے جناب سپیکر، چونکہ بار بار یہ کہا جاتا ہے کہ ایوان کے ممبروں کی ٹریننگ ہو، اس بل کے ساتھ اگر وہ اوریجنل بل جس میں ترمیم کی جا رہی ہے، بھی انکلوز کیا جاتا تو پتہ چلتا کیونکہ دیکھئیے یہ سیکشن میں لکھا ہے کہ "Clause as shall be 'deleted" "Clause shall as" کیا ہے؟

جناب سپیکر، څه پوهه شوم جی، څه تاسو له جواب درکوم۔ دا خبره هغوی ته مونږ پوائنټ آوټ کړے ده او د دے د پاره درے ورځے پکښے مو مهلت کیښو، دوی به هغه سپلانی کوی تاسو ټولو ته، Extracts به درکوی جی، هغه م ورسره خبره کړے ده جی۔ دے د پاره دا تشه Lay کیږی او Passage یا دغه ته نه راځی۔ Within three days به تاسو ته د هغے دغه اوشی جی۔

سردار غلام نبی، انہوں نے وہ دیا ہوا ہے، ساتھ اوریجنل بل بھی لیکن وہ فوٹو سٹیٹ غلط ہے۔ اس پہ کوئی سمجھ نہیں پڑتی ہے تو صحیح قسم کی فوٹو سٹیٹ دیں۔

## آرڈیننس ہا کا ایوان کی میز پر رکھا جانا

**Mr. Speaker:** Hon'ble Minister for Law and Parliamentary Affiars NWFP, to please lay on the table of the house the NWFP Finance Amendment Ordinance, 1997.

**Mr. Bashir Ahmad Bilour** (Minister for Irrigation): Thank you very much. Mr. Speaker, Sir, on behalf of Minister for Finance, I beg to lay before the House the North West Frontier Province Finance (Amendment) Ordinance, 1997.

**Mr. Speaker:** The Ordinance stands laid. The Hon'ble Minister for Education, NWFP, to please lay on the table of the House the North West Frontier Province, Hazara University Ordinance, 1997. Hon'ble Minister for Education, please.

**Mr. Muhammad Hashim Khan** (Minister for Education): Mr. Speaker Sir, I beg to lay the North West Frontier Province, Hazara University Ordinance, 1997 before the House.

**Mr. Speaker:** The Ordinance stands laid. The Hon'ble Minister for Archeology & Museum NWFP, to please lay on the table of the House the NWFP, Antiquities Ordinance, 1997. Hon'ble Minister for Archeology & Museum.

**Mr. Sanaullah Khan Miankhel** (Minister for Health): Mr. Speaker Sir, I beg to lay the North West Frontier Province Antiquities Ordinance 1997.

**Mr . Speaker:** The Ordinance stands laid . The sitting is adjourned and we will re-assemble at 9:30 a . m on Monday . Thank you.

---

(اسمبلی کا اجلاس اپریل' بروز پیر ساڑھے نو بجے صبح تک کیلئے ملتوی ہوگیا۔)